مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سلطان جان کلیوال

۲۰۱۹/۰۸/۲۲

# دجال، دجال دی

د یوه کلی په ورانـی، بل کلئ نه جوړیږی
د یوه زړه په ماتیـدو، بل زړګئ نه رغیـږی

د وینـو لـوبه سـمه لـوبه نه ده مـه یی کـوه
بی دسرو له غـوڅیـدوپه بل څه نه ختمیږی

ایـمان ګټـلو ته به نوری لارې هـم وی ګوندی
د بــی ګنــاهو په وژلـو ایمان نه لـوړیـږی

د جنت حوری خو څه ستا د کوڅې ډمې نه دی
ته تیـروتلی ئی په تـورو پیســو نه خـرڅیږی

د شـر کچکول غاړې نه لری کړه سیاسی فقیره
عـیـب لـکه غـر دی د چپنی لانـدی نه پټیـږی

څومره به ښکار کړی تورولومو کی ساده کلیوال
کلیوال ډیر دي د دامونو په ښکار نه کـمیږی

په جـوړیـدو ده محـکـمـه د عـدالـت نن ـ سـبا
دجال دجال دی د عیســـی ع په نامه نه چلیږی

.

اګست/ ۲۰۱۹/۲۰

ایجکس ـ تورنتو/ کاناډا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ